بسم الله الرحمن الرحيم

**خبر او تبصره**

## د کولالمپور کنفرانس - ۲۰۱۹م ؛ د ستونزې له سرچینې څخه حللاره؟

خبر

د ۲۰۱۹ د کولالمپور کنفرانس چې د دسمبر له ۱۸-۲۱ داير شوی و، د اسلامي نړۍ د شرم څخه ډک بد حالت يې ښکاره کړ. په واقعيت کې دغه کنفرانس يوه لويه بې عزتي وه، که څه هم پدغه کنفرانس کې په يوه لويه اجنډا سره راټول شوي و. د نوموړي کنفرانس اصلي هدف دا و چې د مسلمانانو او اسلامي نړۍ د ستونزو لپاره د حل لاره ولټوي، په داسې حال کې چې د دغه کنفرانس رهبران په خپله د ستونزو اصلي لاملين دي!

تبصره

کله چې کنفرانس شروع شو، اختلافونه هم وسره پيل شول؛ د پاکستان لومړي وزيرعمران خان په وروستۍ دقيقه کې په دې پلمه په کنفرانس کې خپل شتون لغو کړ، چې زه هڅه کوم د اسلامي امت د ټوټه کېدو مخه ونيسم. له دې سره سم د سعودي عربستان پاچا سلمان عبدالعزيز هم نظر ورکړ، نوموړي د کنفرانس په اجنډا نيوکه وکړه او ويې ويل: غوره دا وه، چې پر دغه اجنډا باندې د اسلامي همکارۍ په کنفرانس کې بحث شوی وای.

دليلونه يې چې هر څه وي، خو د سعودي عربستان او پاکستان رهبران دواړه د امريکا غلامان دي او د اسلامي امت د ستونزو جوړوونکو په منځ کې لويه برخه اخلي. همدارنگه د اندونيزيا ولسمشر او د هغه معاون هم خپل حضور لغوه کړ. د ترکيې ولسمشر رجب طيب اردوغان – چې په خپلو غولوونکو خبرو مشهور دی- خپله ژمنه پوره کړه او د قطر له امير تميم بن حماد الثاني سره يو ځای راغی. له دې سره حسن روحاني چې له اوله يې خپل حضور نه و تائيد کړی، خو په کنفرانس کې يې گډون وکړ. د نوموړي د گډون په هکله اسلامی مذهبي رياست غبرگون و نه ښود؛ په ځانگړې توگه د سېلانگور ايالت چې شعيه گان په انحراف تورنوي.

سره له دې چې دغه کنفرانس يو ځانگړی اتفاق او جوړښت درلود، خو په واقعيت کې د پخوانيو نړيوالو کنفرانسونو په څېر و، چې هېڅکله يې هم د اسلامي امت ستونزې نه دي حل کړې. په واقعيت کې څه چې موږ وينو او کېږي هغه د دغه شريف امت پر وړاندې په خيانتونو پسې خيانتونه دي. ولې داسې کېږي؟ اصلي لامل يې دغه رهبران دي چې د ډېرو ستونزو د پېښېدو لامل گرځي! يوازې هغوی ته وگورئ، چې دغه کنفرانس ته رابلل شوي وو! د

ایران ولسمشر ته یې سره قالینه ورکړې وه، په داسې حال کې د نوموړي لاسونه اوس هم د سوري مسلمانانو په وینو رنګ دي.

د امریکا تر واک لاندې د ایران، ترکیې او روسیې یووالی او همکاري تر څو د بشارالاسد رژیم پیاوړی کړي، یو ډېر ښکاره خیانت دی، چې حتا ړندو ته هم د لیدلو وړ دی. اردغان ته د ډېرو مسلمانانو له خوا د قهرمان لقب هم ورکول کېږي، که څه هم چې له امریکا او یهودي نامشروع دولت سره یې ښې اړیکې ادامه لري. کفارو ته د نوموړي  وفاداري له ورایه ښکاري. بل اسلامي هېواد، قطر چې بهرنیو ګارګرانو د (کفاله سیستم) په واسطه استثمار کړی، چې د ۲۰۲۲م کال د فوټبال نړیوال جام د کوربه توب د تیاري لپاره په زیربنایي پرمختیایي پروژو کې استفاده کېږي. خپله د نړیوال جام ترتیبول ښیي چې قطر د امت ستونزو ته پاملرنه نه کوي. قطر ته په داسې حال کې چې اسلامي امت په بېلا بېلو ناورینونو کې راګیر دی، پکار نه ده چې داسې بې ځایه نمایشونه وکړي.

اندونیزیا په نړۍ کې هغه هېواد دی، چې تر ټولو ډېر مسلمانان لري، مګر مسلمانان یې تر ټولو د ډېرو ستونزو سره لاس او ګرېوان دي. په دغو وروستیو کې د نوموړي هېواد د دین وزارت پرېکړه وکړه، چې د خلافت او جهاد موضوعات باید د تعلیم له برنامو څخه لرې کړل شي. په همدغه حال کې اندونیزیایي دولت چې د یاکاوي په وسیله رهبري کېږي، د تروریزم د له منځه وړلو په پلمه غواړي، چې د سیاسي اسلام د راولاړېدو او د مسلمانانو پر اصلي اسلام باندې پوهېدلو څخه مخنیوی وکړي. دغه حرکتونه د امریکا له غوښتنې سره سم سرته رسوي، چې د جهاد، سیاسي اسلام او هر هغه څه چې د امریکا واکنۍ ته خطر برېښي له منځه یوسي.

خپله د مالیزیا په هکله څه دي؟ نه هم پکتان هرپان چې په دغه وروستیو کې قدرت ته راغی او نه هم باریسن ناسیونال چې شپږ لسیزې په قدرت کې و د اسلام د تطبیق قصد درلود. په دواړو دولتونو کې چې څه  باوري دي هغه د سېکولریزم قوي پرمختګ او د لېبرالېزم د برنامو خپرول دي. سره له دې هغه ډلې چې له اسلام څخه نفرت لري، خپلې پوچې نظریې یې د بیان ازادۍ او ډېموکراتیک نظام په نامه په شدت سره خپروي. دواړو دولتونو هېڅکله هم اسلام ته په خپل حکومت کې په صحیح بڼه ځای نه ورکاوه؛ د دې پر ځای دوی له اسلام سره په ډېر کم احساس معامله کوله او د خپلو تېروتنو د رفع کولو لپاره به یې اسلامي روایتونه جوړول.

اوس پوښتنه دا ده چې: ایا دغه رهبران کولای شي چې د اسلامي امت د ستونزو لپاره حللاره پیدا کړي؟ په واقعیت کې دوی هڅه کوي چې اوسنی حالت جاري وساتي او د دولت هغه سیستم چې له استعمارګرانو څخه په میراث ورته پاتې دی دوام ورکړي، همدارنګه کفارو ته د دوی تسلیمېدل د ستونزو اصلي لامل دی، چې نن ورځ اسلامي نړۍ او مسلمانان پکې غرق دي. تر څو پورې چې اوسنی حالت دوام ولري او اسلام پوره تطبیق نشي، زرګونه کنفرانسونه به هېڅکله هم د نړۍ په کچه د مسلمانانو ستونزې حل نه کړي!

**د حزب التحرير مرکزي مطبوعاتي دفتر ته**

**لیکوال: ډاکټر محمد- مالیزیا**